مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سمیع الدین افغاني

۲۰۱۸/۱۱/۰۴

# چې وختونه

چې وختونـــه يـو پـــه بل پسې سبا شي
حقايق د زمـــاني بـــه بـــرملا شي

چاچې کړي وي خيانت د قام په حق کې
دا حتمي ده چې عالم کې به رسوا شي

د رښتيا کاروان پـــه مخه ځي تيريږي
د خائن به دې کاروان نه لار جلا شي

بې لـــه شکه پـــه قوي تکل او عزم
دا تيارې د ظلمتونـــو بـــه رڼـــا شي

دريابونه هـــاند ښپاند شي د بزمـــونو
چې عـــزمونه ارادې يې بې ريا شي

ځو پـــه مخه پـــه سراب نه ايساريږو
خيانت کار به مخ تورن نن يا سباشي

افغاني که وروړگلوي موخدای نصيب کړه
د دې خاورې خائنان به رو سيا شي

---------------------------------
سمیع الدین افغاني


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ